# په نولسمه پېړۍ کښي د پښتو لغتونو، شجرو او ادبي تاريخونه جائزه

# An Account of 19th Century Pashto Lexicons, Lineages and Literary History

عبدالصمد کاکړ*

**Abstract:**

This research paper taces the position and significance of 19th century orientalists ventures in the domain of compiling Pashto language dictionaries, tracing down the discourse within people on their linage and race and the glimpses of literary history told by the learning brigades of European colonialism. As 19th century is marked as one of the most volatile period for the sub-continent viz a viz Afghans and Afghanistan, a cross cutting conflict remained there for decades amongst the Afghans and British India, amid this turmoil, what kind of scholarship has been evolved is the basic question of research probed and answered by the author. The paper open discourse on the authenticity of the absent authorities and also take the scholastic significance of scholarship and opinions created by the orientalists. Albeit these writings of 19th century helps out the contemporary scholars and researchers to define the features of literary history, Pashto language alignment with sisters languages and language family and also shed light on the lineage and race questions.

**Key words:** Pashto language ,Pashto Literary History, race and lineage,orientalism, discourse analysis.

**د موضوع پېژندګلو:**

د پښتو ژبي او ادب د تاريخ بحث له تيرو درو سوو کلونو څخه تر بحث لاندي دی او تر ډيرو پړاؤنو راتېر شوی دی. د ژبي، شجرو او ادبي تاريخونو بحث د تاريخ په اوږده پېر کښې د شفاهي روايت تر اثر لاندي پاتي شوی دی کوم چي د ځای او وخت د بدلون سره د اولس د اجتماعي حافظې څخه کډه کوي او نوی مواد د هغهٔ ځای نيسي.

په دي مقاله کښې د نولسمي صدۍ په پېر کښي د پښتو ژبي د لغاتو، د پښتنو اصل او نسل په هکله را ټول شوي او ترتيب شوي اثارو او د پښتو ادبي تاريخ د هغو منابعو په هکله خبره شوې ده چي په نني علمي او ادبي ډسکورس کښي بشپړهٔ او معتبر ځای لري.

---

* Lecturer, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

د پښتو لغتونو په هکله په لومړي ځل باقاعده کور د ایسټ انډیا کمپنۍ په دور کښې په برتانوي هند کښې پېل شوی دی، چې ځارنه یې د انګریزي استعمار تر نظارت لاندي کیدله. ریاض المحبت چې د نواب محبت خان تالیف شوی لغت ؤ په کال ۱۸۰۶ کښې چاپ شوی دی، هم دغۀ ډول د پښتنو د اصل او نسل په هکله بنیادي مباحث هڅې خو د مغل امپراتورۍ په منځني دوره کښې پېل شوی دی خو و دې لورته تر ټولو زیاته او منظمه پاملرنه د برتانوي هند انګریزي واکمنانو له لوري شوې ده. په نولسمه صدۍ کښې دغه کار په لومړي ځل د مونستیوارټ الفنسټن په مشرۍ کښې یوه ډله کوي چې شمېر یې په لسګونو یادیږي. د هغۀ د نوموتي کتاب "د کابل سلطنت بیان" د پښتنو تر څلور سوه څخه ذیاتي قبیلې بیان کړي دي او د هغوی ټاټوبي او خوی و خصلت یې هم ذکر کړی دی. د دې وروسته و ختیځ پوهانو ته لاره هواریږي او هغوی په دقیق ډول یوه یوه قبیله او د هغې نسبي ریښه کیندلې ده او د اولسي بیانیو پر اساس یې و شجرو ته ترتیب ورکړی دی. د دغه کار پر اساس د مغولوي دور هغۀ نظریه هم له منځه ولاړه چې پښتانه یي د قېس عبدالرشید اولاد باله او په نسلي توګه یې پښتانه بني اسرائیل ثابتول. په دي هکله بنیادي کار د ارمینائي ژبپوهه کلاپروت له خوا شوی دی چې پښتو یې د سامي ژبو د قطاره را و ایسته او د هندو-اروپائي ژبو له خاندان سره یې وتړله. د هغۀ وروسته د شجرو د راټولو، ترتیبولو، او پښتنو قبیلوي او نسلي بنیادونه ډاکټر بیلیو، هنري جیورج راورټي، جیمز ډار، او نورو ختیځ پوهانو را ټول کړي دي او د ختیځ پوهني په ډسکورس کښې یې ښه ځای موندلی دی.

په هم دې دور کښې د پښتو ادب پر تاریخ هم بنیادي کار شوی دی. د ډورن الماني، هنراي جیورج راورټي، بډلف، پادري هیوز، جے جے لوریمر او داسي نورو تحقیقي کار هم کړی دی او ژباړې یې هم کړي دي. د میجر راورټي له لوري ګلشن روه او د افغانانو د شعرونو منتخبات داسي اثار دي چې د پښتو کلاسیکي شاعرانو د ژوند حالات او د هغوی د تصنیفاتو ښه تفصیل راوړل شوی دی. استاذ رښاد صاحب د ختیځ پوهانو په هکله په خپل تالیف کښې لیکي:

"په دې کتاب کښې د خوشحال خان ، رحمان بابا ، حمید ماشوخېل او ځینو نورو پښتنو شاعرانو د ژوندانه حالات هم څېړل شوي دي".(1)

**د نولسمي صدۍ د لغتونه لنډ جاج :**

"لغت چي په عربي او فارسي کښې ورته قاموس وئیل کیږي هغۀ کتاب دی چي د ټکو او تورو د معنا ، رغونو او د هغه مبدا او ماده خوندي کوي. په عادي توګه زموږ په چاپېریال کښې ورته ډکشنري، لغت نامه ، لغت وئیل کیږي. د نړۍ په بیلابیلو مدني مرکزونو

کښې د لیکل شویو لغتونو نخښې نښانې اوس هم په لرغونتونونو کښې خوندي دي. د چائینا د زوهو سلطنت /واکمنۍ په دور کښې د کارول کېدونکو ټکو او رسم الخط یو لغت قابو ۸۰۰کاله تر میلاد وړاندې لیکل شوی دی".(2)

. په اصطلاح کښې د ډکشنري یا لغت تعریف څه دا ډول شوی دی:

“A reference source in print or electronic form containing words usually alphabetically arranged along with information about their forms, pronunciations, functions, etymologies, meanings, and syntactic and idiomatic uses”(3).

**ژباړه**: د حوالې یوه مبدا/ذریعه چې په چاپي یا برېښنائي/الیکټرانک توګه د بیلابیلو ټکو په هکله معلومات په الف بائي ترتیب سره راوړي، د ټکو د جوړښت، ږغونو، استعمال، اشتقاقي ریښې، معنا، نحوي/په جملو کښې د ټکو ترتیب او د ټکو د محاوراتي ارزښت او استعمال په هکله بشپړ تفصیلات راوړي".

د لغتونو هدف دا وي چې د یوې ژبې بشپړه فهرست جوړ کړي د هري کلمې ثبت کول چې ومو‌ندل شي ناڅرګنده او لرغوني ټکي د ژبې له لومړیو مرحلو او حتیٰ ټکو څخه چې یوازي یو ځل تایید شوي وي شامل کړل شي ځکه چې ژبه هم د ژوند له نورو بدلونونو سره پر مخ ځي.د سائینس او تخلیق له پر مختګ سره نوي ټکي رامنځ ته کیږي لغت سازي په ژبه کښې د دې نوي ټکي زده کولو لپاره د یوې وسیلې په توګه مهم رول لوبولوي.په پښتو ژبه کښې ځکه لغات سازي ضروري ده چې پښتوژبه هم یو لوی ادب لري.یوه لرغونې ژبه ده او ډېر بدلونونه پکښې راغلي دي په دې حقله حبیب الله رفیع لیکي.

" پښتو هم یوه ژبه ده،یوه زړه او لرغونې ژبه ده او د ودې او تکامل د همدې طبیعي قانون له مخي یې یون کړی،وده یې کړې،بدلونونه پکښې راغلي،زیاتوني پکښې شوي او تر موږ پوري رارسېدلې ده.پښتو چې په خپل چاپېریال کښې څه دریو دلي نومونه یې ورته ایښي.د راشو درشو په ترځ کښې یې څه لیدلي نوم ورته اخیستی او دا راکړو او ورکړو له لاري یې څه لاس ته راوړي له هغه سره وړ نوم یې ورکړی دی.دا لړۍ نوې نه ده له پخوانه راروانه ده او هم دا لړۍ ده چې د ژبې کړۍ یې پسي غځولې ده".(4)

لغات مرتب کولو بیل بیل ډولونه لري.یو ډول قاموس په دوو ژبو کښې لیکل شوی او په خپله ژبه کښې ژباړه هم شوې.دویم ډول لغات کښې یو ژبني لغت د ټکو او د هغوی تعریفونو لپاره ورته ژبه کاروي.دریم ډول لغات کښې د وخت په تیریدو سره د کلمې پر مختګ تعقیوي،تاریخي مثالونه

وړاندي کوي او بدلونونه ښيي،څلورم ډول لغات کښي بيا کټګوريو او مفاهيمو په واسطه ټکي تنظيموي،مترادفات او نيږدې مترادفات د يوټکي لپاره کاروي.پنځم ډول لغات کښي د ټکو يا عبارتونو لسټ وي چي په ځانګړي برخه کښي د دوی تعريفونو سره کارول کيږي دا ډول لغتونه اکثر دا اکاډميک کتاب په آخر کښي د متن ضميمه په توګه موندل کيږي.

د سرليک مطابق به دلته پښتو ادب کښي د هغو لغاتونو ذکر وشي کوم چي په نولسمي صدۍ عيسوي مرتب شوي دي.په پښتو ادب کښي لغات سازي په نولسمي صدۍ عيسوي کښي رامنځ ته شوي دي چي د ځايي محقيقينو او ختيځ پوهانو لخوا په لغات مرتب کولو باندي کار کړی په نولسمي صدۍ عيسوي کښي په پښتو ادب د لغات سازي په سلسله کښي د نولسمي صدۍ عيسوي په لومړي سر کښي چي کوم لغات ليکل شوي دي هغه د ځايي محقق نواب محبت خان په(1806) ميلادي کال کښي د رياض المحبت په نامه ليکلی دی.د نواب محبت خان دا لغات په دوو برخو مشتمل دی.حبيب الله رفيع د دې لغات په حقله داسي ليکي.

> " لومړۍ برخه يې (مشقات) بولي په حقيقت کښي لومړۍ برخه يا باب يو ځانګړی ټوک دی چي خطي نسخه يې 595 پاڼي لري او 1190 مخونه کيږي.په دې ټوک کښي د پښتو مصادر له مشقاتو او تشريحاتو سره راغلي چي 200 شاوخوا ريښې يې څيړلي او په هري يوې سره يې د مشقاتو بشپړ ګردان راوړي دي.رياض المحبت دوهم ټوک تشريحي قاموس دی چي لغتونه په مجرد ډول څيړي او شرح ورکوي.مصدري ريښې په دې ټوک کښي هم راغلي خو مشقات ورسره نشته او هر مصدر د يوه لغت په توګه څيړل شوی دی".(5)

د لغات مرتب کولو په سلسله کښي په نولسمي صدۍ عيسوي کښي په پښتو ادب يو بل لغات نواب الله يار په 1228ھ کښي د عجائب الغات په نامه مرتب کړی دی.د نواب الله يار لغات عجائب الغات په حقله صديق الله رښتين ليکي.

> " دا کتاب د څلورو ژبو يو ښه قاموس دی.لومړی هندي لغت راوړي بيا پښتو فارسي او وريسې عربي لفظ بيانوي. او د هر لغت د پاسه دغه علامې(ه،پ،ف،ع) ليکي.د دې قاموس په سر کښي د پښتو ژبي يو څو ګرامري قاعدې هم بيان شوي دي.په دې قاموس کښي د پارسي لغاتو د پاره ادبي حوالې هم ورکړ شوی دی او دا د ده په زياته مطالعه باندي دلالت کوي".(6)

په نولسمه صدۍ عیسوي کښې د پښتو ژبې او ادب د څېړنو او پلټنو په باب ختیځ پوهانو په پښتو ادب کښې ډېر لغاتونه مرتب کړي دي.په نولسمه صدۍ عیسوي د لغات سازي په سلسله کښې په ختیځ پوهانو کښې لومړی نوم دمېجر هنري جارج راورټي راځي.مېجر هنري جارج راورټي چې د انګلستان په فوج کښې ملازم وو په 1860 کښې A Dictionary of Pashto Language of Aghan په نامه لغات لیکي .د مېجر راورټي لغات په پنځه ویش زره پښتو لغتونه په انګرېزي ژبه کښې یې معني لیکلي دي.د راورټي د لغات په حقله بي بي مریم لیکي.

> " دغه لیکوال د پښتو انګرېزي یو ښه لغات مرتب کړی دی.د دغه لغات مقدمه هم ډېر ادبي اهمیت لري وئیلی شي چې دغه لغات مېجر راورټي د نواب الله یار خان ابن نواب حافظ رحمت خان د لغات"عجائب الغات" د اثر لاندي لیکلي دي.نواب صاحب د پښتو الفاظو تشریح په فارسي کښې کړې ده او مېجر راورټي په انګرېزي کښې دا کتاب د هغه غیر پښتو د پاره ډېر سود مند دی ځوک چې د پښتو په زده کړې کښې دلچسپي لري".(7)

په نولسمي صدۍ عیسوي کښې د پښتو ادب لغات سازي په سلسله کښې ختیځ پوهانو کښې دویم لغات ډاکټر هنري والټر بیلیو مرتب کړی دی.ډاکټر هنري والټربیلیو لغات A Dictionary of Pashto Language په نامه لیکي چې په لومړي ځل په 1867 کښې په لندن کښې چاپ شوي دي.په نولسمي صدۍ عیسوي کښې ختیځ پوهانو د پښتو ادب د لغات سازي په سلسله کښې یو بل ختیځ پوهه کوم چې د جرمني سره تعلق لرونکی دی .ویلیم ګایګر چې په 1893 کښې د Etymologies Logics and Lautehredes Afghanistan په نامه یو رساله لیکي .ویلیم ګایګر رساله چې د پښتو ژبې لغاتونه د سنسکرت او اوستا او نورو ژبو سره یې مقاسیه کړي دي.هم دا راز په نولسمي صدۍ عیسوي کښې روسي پوهاند پروفېسر برنارډرون په 1847 کښې Chrestomathy of Pashto or Afghan Language په نامه یو درسي لغات لیکي چې د پښتو انګرېزي لغات د الفبا په ترتیب سره مرتب کړی او د لغات په آخر کښې د پښتو ادب د لیک او د دوی د نسلونو تعقیب شوی دی .شجره د قام په اړه هغه معلومات تر لاسه کولو او دې د غړو،کورنۍ اړیکي ښودلو لپاره تاریخي ثبوتونه،جنسیاتي تحلیلونه او نور ثبوتونه کاروي چې د یو قام اصل او نسب حقیقت رابرسېره شي.

**د پښتنو د نسل په هکله د ختځ پوهانو ډسکورس**:

د پښتون قام د اصل نسب په حقله څېړنې په شپاړسمي صدۍ عیسوي کښې د ځاي محقیقینو لخوا رامنځ ته شوي دي خو دلته سرلیک مطابق د هغو څېړنو ذکر کوو کوم چې په نولسمي صدۍ عیسوي کښې رامنځ ته شوي دي.

د ستري لوبي (ګریټ ګیم) په ترځ کښې چې کله د هندد ښیرازي سیمو د خوندي کولو لپاره او د فرانس، روس او نورو یورپي قومونو لخوا پر هند د قبضې کولو په موخه ستره لوبه را منځ ته شوه چې بنیادي هدف یې د وچې یا مځکي له لوري د دغو اقوامو دراتګ امکانات شنډول. په دې هکله افغانستان په تاریخي ډول و هند ته د ننوتلو یو دربند یا دراوزه بلل کیده. د هم دې ویري له کبله پر افغانستان خپل لاس پوځي واکمنان کښېنول یا افغانستان د برتانوي هند تابع کول یو بنیادي سیاسي او معاشي ضرورت جوړ شو. له هم دې کبله دلته انګریزي او نورو یورپي ختیځ پوهانو مخه را کړې ده او د پښتنو د مځکي، لارو، ټولنیز او سیاسي رغښت څېړنه یې په دقیق ډول کړې ده. دغه پدیده ډاکټر برکت شاه کاکړ په خپلو مقالو او ناچاپه اثر کښې په دقیق ډول څېړلې ده.

د هم دې مرام له مخې په نولسمي صدۍ عیسوي کښې د پښتون قام د اصل نسب په حقله ختیځ پوهانوګرویږني او څېړني کړي.په نولسمي صدۍ عیسوي کښې د پښتون قام د اصل نسب په حقله لومړۍ څېړنه مشهور ختیځ پوهه مانسټوارټ الفسټن څېړنه کړې ده.الفسټن د افغانستان او افغانانو په حقله یو مشهور اثر لیکي چيAn Account of the Kingdom of cabul د کابل سلطنت بیان په نامه ښاغلي حسن کاکړ ژباړلی دی، چې په کال 1839ء له لندن څخه چاپ شوی.الفسټن د اثر په مختلفو برخو مشتمل دی او هره برخه یې ځانته مختلف بابونه لري .الفسټن د کتاب په دویمه برخه کښې د پښتو د اصل نسب په حقله په تفصیل راوړی دی او دا نظریه هم رده کړې چې پښتانه بني اسرائیل دي.د الفنسټن دغهٔ کتاب وروسته بیا د نورو ختیځ پوهانو پام د پښتنو د اصل او نسب و لورته راواړولو.

هم دا راز په نولسمي صدۍ عیسوي کښې د پښتو د اصل نسب او شجرې په حقله انګرېز ختیځ پوهه مېجر هنري جارج راورټي تبصره کړې ده. هغهٔ هم په زیاتره مواردو کښې دي هکله د الفنسټن د مکتب لیکوال ثابت شوی دی او پښتانه یې د یوه ملت پر ځای قبائلي وحدتونه ګڼلي دي. الفنسټن البته دا فکر در لود چې د پښتنو هر کلتوري حوزه په خپل ځای یو رپبلک دی چې د خپل طرز ښه جمهوري کړهٔ وړهٔ هم لري. مېجر هنري جارج راورټي په خپل کتاب Grammar of Pashto or Pashto Language په نامه چې په 1855ء کښې چاپ کړی دی د دې کتاب په مقدمه کښې راورټي د پښتنو د اصل نسب په باره کښې خپله تبصره وړاندې کړې او پښتانه یې بني اسرائیل ګڼل دي.

په نولسمي صدۍ عیسوي کښې د پښتون قام د اصل نسب او شجرې په حقله یو بل مشهور ختیځ پوهه ډاکټر هنري والټر بیلیو مخ ته راغلی دی.والټر بیلیو دا کتاب په 1871ء کښې د "افغانستان او افغانان" په نوم چاپ کړی دی.د ده دا کتاب په دوو برخو مشتمل دی اوله برخه د افغانستان د معاصر

تاريخ باندي بحث کوي او په دويمه برخه کښي د افغانانو د اصل نسب په حقله هم هغه بيانيه تکراروي چي تر هغهٔ لومړيو ختيځ پوهانو کړی دی .والټر بيليو د خپلي څېړني په نتيجه کښي پښتانه بني اسرائيل ګڼلي دي.د ده د کتاب د دويمي برخي په حقله ډاکټر حبيب الله تړی داسي ليکي.

"د کتاب په دويمه برخه کښي د افغانانو په اصل نسب بحث شوی دی.دغه راز په دې برخه کښي د افغانانو او پښتنو د ملک په بېلو بېلو برخو خبري شوي او په ضمن کښي په دغو سيمو کښي ځيني پخواني تاريخي حوادث هم ذکر شوي دي البته بيليو دا افسانه چي په کښي پښتانه اسرائيل ګڼل شوي، تکرار کړې ده".(8)

هم دا راز د پښتنو د اصل نسب او شجرې په حقله په نولسمي صدۍ کښي فرانسوي ختيځ پوهه جېمز ډار مستيټر څېړنه کړې ده.جېمز ډار مستيټر چي د کالج آف دي فرانس کښي د شرقي علومو استاد ؤ. ډارمستيټر د پښتو ژبي او پښتنو د اصل نسب او پښتني فولکلور په حقله څېړني کړي دي. ډار مستيټر په 1888ء کښي د پښتنو ملي سندرو په نامه يو مهم اثر په پاريس کښي چاپ شوی دی.د جېمز ډار مستيټر دا اثر په دوو برخو مشتمل دی.په يوه برخه کښي هغه سندري دي چي جېمز ډار مستيټر د خپل سفر په دوران کښي راټولي کړي دي او بله برخه کښي د پښتو ژبي او پښتو د اصل نسب په حقله تاريخي څېړنه کړې او د خپلي څېړني په نتيجه کښي پښتانه آرين ثابت کړي دي.

**په نولسمي صدۍ کښي د پښتو ادب تاريخي کړهٔ وړه:**

د پښتو ژبي د ادب تاريخي پيرونو په شلمي صدۍ کښې په بنيادي توګه ترتيب شوي او بحث شوي دي. په نولسمي صدۍ کښې د ختيځ پوهانو د تاليفاتو او تصنيفاتو په ترڅ کښي دا خبره ډېره اسانه شوې ده چي د شلمې او يوويشتمي صدۍ پښتانه ليکوالان او محقيقين دي د پښتو ادب د تاريخ يو معروضي او سائنسي ترتيب تشکيل کړي.د ادب تاريخ يا ادبي تاريخ په حقله ډاکټر زيورالدين زيور داسي ليکي.

" ادب تاريخ په عامه توګه د نړۍ او په خاصه توګه د يو هيواد او ملت د ادبياتو د پر مختګ جريان مطالعه او ترڅېړني لاندي نيسي چي د تکامل په مختلفو ټاکلو او ځانګړو دورو او مرحلو په ترڅ کښي ځرګند شوي وي او همدا رنګه د ځانګړو ليکوالو او شاعرانو آثار هم تر څېړني لاندي نيول کيږي".(9)

په ادبي تاريخ کښي د ادب د يوې دورې عامي ځانګړتياوي په ګوته کول، يا دا ښودل چي څنګه ادب له يوه عمر څخه تر بل عمر پوري وده کوي په دې حقله اسماعيل يون داسي ليکي.

" د ادبیاتو تاریخ هغه پوهنه ده چي د تاریخ بېلا بېلو پېړیو په پوړیو کښي د یوې ژبي علمي،ادبي او څوړتیا څېړي او د ټولنیز د چاپېریالي شرائطو او حالاتو په رڼا کښي د ادبي ودې او تنزل د پیښو اصلي عوامل په ګوته کوي".(10)

د ادبي تاریخ هدف دا دی چي د پېړیو په پوړیو کښي د ادبي آثار تر بحث لاندي نیسي او د ادبیاتو د بدلیدونکي دندو په اړه پوهه او عمومي کتنه وړاندي کړي.

ادبي تاریخ لیکنه تر ټولو مهم میلان دا دی چي څنګه ادبیات له تاریخي شرایطو سره تړاو لري او تر منځ یې اړیکه څه ده،ځکه چي ادب د تاریخ راپور ورکولو نمائندګیو لپاره کارول کیږي.ادبي تاریخ دا مفهوم هم څرګندوي چي د ادبي دورې د بدلونو علت څه وي.د دورو تر منځ اړیکي څه دي او یو په بل یې اغېز څه ده، د اټول مشاهده کوي او د دې بدلونونو د د لا یلو موندلو هڅه کوي.د ادبي تاریخ په هکله ډاکټر جمیل جالبي لیکي.

"ادب کی تاریخ وہ آئینہ ہے جس میں ہم زبان اور اس زبان کے بولنے اور لکھنے والوں کی اجتماعی و تہذیبی روح کا عکس دیکھ سکتے ہیں۔ ادب میں سارے فکری، تہذیبی، سیاسی، معاشرتی اور لسانی عوامل ایک دوسرے میں پیوست ہوکر ایک وحدت، ایک اکائی بناتے ہیں اور تاریخ ادب ان سارے اثرات، روایات محرکات اور خیالات و رجحانات کا آئینہ ہوتی ہے"(11)

**ژباړه**:د ادبیاتو تاریخ یوه داسي آئینه ده چي په هغه کښي د ژبي د ویونکو او لیکوالانو د اجتماعي او کلتوري روحي انعکاس لیدلی شي. په ادبیاتو کښي ټول فکري،فرهنګي، سیاسي،ټولنیز او ژبني لاملونه سره یو ځای کیږي. یو واحد ، واحد جوړه وي او د ادب تاریخ د دې ټولو اغیزو، دودونو،انګېزو او افکارو او رحجاناتو عکس دی.

د د غو پورتینو دلا یلو په رڼا کښي که موږ په پښتو ادب کښي ادبي تاریخ لیکني بهیر باندي نظر وکړو نو موږ ته په پښتو ادب کښي په نولسمي صدۍ عیسوي کښي د ادبي تاریخ لیکني بهیر په نظر نه راځي.په پښتو ادب کښي د ادبي تاریخ لیکني بهیر د شلمي صدۍ عیسوي څخه راپیل کیږي په پښتو ادب کښي تر شلمي صدۍ عیسوي د مخه یواځي ادبي تذکرو لیکني رواج ؤ.ادبي تذکرې چي د یو شاعر د ژوند پیښې،د نظم او نثر بېلګي پکښي موجودي وي خو د ادبیاتو تاریخ نه بلل کیږي البته د ادبیاتو ادبي د لیکني په مهال کښي تذکرې د اساسي ماخذ حېثیت لري .په پښتو ادب کښي عبدالحی حبیبي لیکلي دي.په دې حقله سید محی الدین هاشمي لیکي.

"په معاصر مفهوم د ادبي تاریخ لیکني بهیر پیلامه د اروانباد پوهاند عبدالحی حبیبي له تاریخچه شعر پښتو اثر څخه کیږي،خو ځینو بیادغه اثر ادبي تاریخ ډوله آثارو کښي

شمېرلي او ځينو له دې املهچي د ادبي تاریخي دورو وېش او ځيني نوري ځانګړني لري، د پښتو لومړني ادبي تاریخ بللی دي.په هر صورت اروانباد استاد دغه اثر په درې ژبه ليکي.په پرله پسې ډول په طلوع افغان کښې خپورېږي او په 1314 لمريز کال د زمري مياشتي په 13نېټه يې خپرېدنه بشپړه شوې ده.(دا اثر په دې ورستيو کښې په کندهار کښې په کتابي بڼه هم خپور شوی دی)".(12)

د سرليک مطابق په نولسمې صدۍ عيسوي کښې د پښتو ژبي ادبي تاريخ ليکني په حقله دي چي هغه مونږ ته په نولسمې صدۍ عيسوي کښې په نظر نه راځي.البته په نولسمې صدۍ عيسوي کښې چي کومې ادبي تذکرې رامنځ ته شوي دي دغو په حقله په دې مقاله کښې وړاندي ذکر شوي دي.

**پايله**:

دپښتوژبي دلغاتو،دپښتنو داصلاونسب مباحث اودپښتو ژبې ادب تاريخي کړۀ وړۀکه مونږد نولسمې صدۍ په دور کښې وګورو نودې پايلي ته رسيږوچي دسياسي کړ کيچ، دکمزوري رياستي سر پرستۍ او دپښتنوځانګړي تولنيز رغښت په دې نه دی توانيدلی چي دخلګو اواولسونو د ژبې، اصل او نسب او ادبي تاريخ په هکله بنستيز کار وکړي. هم دغه کار په زياترو مواردو کښې يا خو ختيځ پوهانو کړی دی يا بيا هغو پښتنو افغانانو ته سپارل شوی دی چي د برتانوي هند دانګريزي واکمنانو سره يې په بېلابېلو مناسباتو کښې همکاري کوله. البته دا خبره پر خپل ځای يو تسليم شوی حقيقت دی چي په شلمې او يويشتمه صدۍ کښې چي کوم علمي اوتحقيقي کار هم په دې هکله او همدې موضوعاتو تر سره شوی دی په هغه کښې د ختيځ پوهانو وکارته بنيادي حيثيت حاصل دی.

# حوالې

1)ربناد ، عبدالشکور،ختیځ پوهانو (مستشرقین). علامه رشاد اکیډمي کندهار. افغانستان، (۲۰۱۶)،مخ ۳۳۸

2) Creamer, T. B. (1992). Lexicography and the history of the Chinese language. *History, Languages, and Lexicographers, Niemeyer*, 105-135.

3) Al-Jarf, R. (2014). Online Arabic-English-Arabic specialized dictionaries. *M. Ángel Campos and J. Ramón Calvo's (Eds), Investigating Lexis: Vocabulary Teaching, ESP, Lexicography and Lexical Innovations. Cambridge Scholars Publishing*, 95-102.

4)رفیع،حبیب الله،ژبساتنه،مومند خپروندویه ټولنه،جلال آباد ،(۱۳۹۴ل) ،مخ 110

5) هم دغه ،مخ 222،223

6)ربنتین،پوهاند صدیق الله،د پښتو نثرهنداره،یونیورسټي بک ایجنسي،خیبر بازار،پېښور ،مخ 169،170

7)مریم بي بي،د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جائزه،تاج کتاب خانه، قصه خواني، پېښور، (1986)، مخ 359

8)ترې،حبیب الله،د مشرق په اسمان کښي د مغرب ستوري،د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، (2004) ،مخ 124

9)زیور،ډاکټر ،زیور الدین،د پښتو ادبیاتو تاریخ،لرغونې دوره ،مهین خپروندویه ټولنه،پېښور، (۱۳۸۹ل هه)، مخ 13

10)یون،محمد اسماعیل، ادب تاریخ (د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره)،افغانستان ملي تحریک ،فرهنګي څانګه،(2015)،مخ 81

11) جالبي، ډاکټر جمیل، تاریخ ادب اردو(جلد اول)، مجلس ترقي ادب کلب روډ لاهور،(طبع چهارم جون 1995) مخ 1

12)هاشمي،محی الدین، ادبپوهنه،مهین خپروندویه ټولنه، (۱۳۹۴ هه ل ).